کله چې الله جل جلاله د قیامت په ورځ لومړني او وروستني خلک راټول کړي، نو د هر خائن او غدار لپاره به یو بیرغ پورته شي، نو وبه ویل شي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خیانت دی

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «کله چې الله جل جلاله د قیامت په ورځ لومړني او وروستني خلک راټول کړي، نو د هر خائن او غدار لپاره به یو بیرغ پورته شي، نو وبه ویل شي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خیانت دی».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې کله الله تعالی د قیامت په ورځ لومړني او وروستني کسان د حساب کتاب لپاره راټول کړي، نو د هر هغه غدار لپاره به چې له الله تعالی یا خلکو سره یې کړې ژمنې نه وي پوره کړي، یوه نښه وټاکي چې له مخې یې خیانت په ډاګه کړي، او له مخې به یې غږ وشي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خیانت دی، څو یې بد د محشر خلکو ته په ډاګه شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2936